# د (ښ) تاريخي بهير

**څېړنيار: شريف الله دوست**

تاريخي ژبپوهنه Historical linguistics’ د ژبو د تغييراتو څېړنې ته وايي او د ژبو د فونيمونو تاريخي - تکاملي ارزښت هم په تاريخي ژبپوهنه پورې تړاو لري. د يوې ژبې د فونيمونو ټولګه يوازې د آوازونو ميخانيکي اوډنه نه ده بلکې فونيمونه د يوې ژبې د بنسټيزو برغيزو واحدونو په توګه يو له بله سره ځانګړې اړيکي لري او په ځانګړې ژبني پيوند تړل سوي دي. په دې معنا چې يو له بله سره د جوړښت او رغښت له پلوه نظم او قانونيت لري، ځکه نو د ژبې په برغيز جوړښت کښې د فونيمونو تر منځ نظم او قانونيت د ژبې د برغيزې بنې سيستم جوړوي. په دې لنډه ليکنه کښې د (ښ) فونيم پر تاريخي بهير برغيږو.

## د (ښ) فونيم په اوستا کښې

(𐬱 ) = ṣ = ښ،ش : دا فونيم په اوستايي متن کښې تر(ی: 𐬌𐬌،w) سيمي واول مخکښې راځي. لکه :

𐬱𐬌𐬌𐬁 ṣyā = شيا : شاد=ښاد چي موږ د وردګو په لهجه کښې يې څرک تر غوږ کيږي کوم کلمات چي د لوی کندهار په لهجه کې په (ښ) ويل کيږي وردګان يې په ځانګړي ښين ته ورته برغ وايي او په پښتو ژبه کې کوم ګرافيم ورته نه دی جوړ سوی. په اوستايي ژبه کښې د(ښ - ش) لپاره درې ګرافيمونه ښوول سوي:( 𐬳، 𐬴، 𐬱 ) او تلفظونه يې سره توپير لري.د کانيګرام په اورمړي کښې کندهاری(ښ) او مرکزي (ش) دواړه سته.([1])

𐬱𐬌𐬌𐬁𐬙𐬀: ( ښاتا= ښاد) يوازې د قريب المخرجه (ت) او (د) د ابدال په توپير.

𐬨𐬀𐬱𐬌𐬌𐬀: ( مښيا = مېړه، نارينه)

لکه ليدل کيږي چې په اوستا کښې د[ش] لپاره درې ډوله ګرافيمونه ښودل شوي دي. د دې دريو شکلونو کاربدل په لرغونو دورو کښې خپلې توپيري ځانګړنې لرلې چې نن زموږ نه يو په خبر. دا درې ډوله په لاندې توګه ښوول شوي دي.

[1]:زنځيری، پورتنی اثر، ۱۱۵مخ.

(𐬱 ) = š= ش: دا فونیم د اوستایي کانسونینټونو په لړ کښي اوولسم ځای لري او د کلمو په سر کښي لږ لیدل کیږي او په ډېرو لږ کلمو کښي کارېدلی دی.

مثال:

𐬱𐬀𐬊𐬙𐬀 šaota = شوتا: ویل کیږي چې دا کلمه تر اوسه نه معنا سوې ، زما په اند دا یو ډول وابښه دی چي آریایي مخینه لري او څارویو ته ورکول کیږي. ځکه په اوستایي ژبه کښي د (ل) فونیم نسته او شوتا دی د پښتو ژبې د قاعدې سره یو(ل) ورسره یوځای سوی دی او له شوتا څخه په پښتو کښي (شوتل) جوړ شوی دی.

(𐬴 ) = ṣ̌ = ښ : دا هم دوهم ډول شین دی چې په اوستا کښي راغلی دی. دا توری د کلمې په سر، منځ او پای کښي کارول سوی دی، دې ته مشدد شین هم وایي د اوستا او پښتو همدا (ښ) سره ورته دی. دا فونیم هم په اوستا کښي په همدې (𐬴) گرافیم سره ښوول سوی چي فارسیانو(ایرانیانو) مشدد (ش) بللی دی او د لوی کندهار په لهجه کي کتې متې خوندي دی.

بولگي: **په اوستا کښي په(ښ 𐬴 ) ځیني کلمات:**

𐬴𐬀𐬌 ṣ̌ay ښی : مېشتېدنه، 𐬴𐬀𐬎 ṣ̌av ښاو= تر اشل

𐬠𐬀𐬑𐬴𐬥𐬀 •(بخښا = بخښه) دا کلمه ځیني لیکوالان ښنه لیکي چي ښکاره تېروتنه ده ځکه د دې کلمې لرغونې ریښه موږ په اوستا کښي دادی لرو ولي یې ښنه ولیکو!

خوشحال ختېک یې هم تر خپله وخته دا اصالت او رعایت ساتلی دی:

بخښو : بخښل، عفو کول = remission

که دغشي په ویشته سره خوږیږې

زه چه ستا په تیر زخمي شم ما بخښو کړې

(د خوشحال فرهنگ اول جلد،ص،۳۱)

نخښه هم دې ته ورته حکم لري چې ځيني يې نښه ليکي دلته دوه توپيري کلمات لرو لومړی نښه symbol معنا لري او بل نخښه د target په معنا ده.

awxšaṇṭ اوخښنټ : خاموښ، غلي، چوپ، تاريک

**اينښ** **iš**: ازماينښ، خواهينښ

اښاته ašᾱta: ناښاد، نامراد، غمجن

اوروخښنَ urvixšna

**کښ** **kaš**: **کښل(لکه د څاه کښل)**

**خښنو** **xšnu** : خوښ، خوشحاله

خښنيو šxviw: ښوېدل

خښنويوي: خښنم، تيز،تاوجن

(نديداد: ۱۸ او ۳۷)

**ښ په سانسکريټ کښي**

(ष=ښ)षोडशाह्रि sodazanhri چنګاښ/ षोडशाङ्गः sodazamzu (ښودازمزو) يوډول نباتی عطر.

(ऺक्ष=kṣ=کښ): = sakṣat:साक्षात् ساکښات :ښکاره/ sakṣatkara:साक्षात्कार ساکښاتکره: خبري اتري.

په سانسکريټ کښي د (ښ) برغ په مجرد او مرکب دواړو ډولونوسته(ष=ښ) او(kṣ=क्ष) مثال: (क्ष बल = balaks بلکښ) په سانسکريټ کښي د سپوږمۍ رڼا ته وايي. بلخېدل،برېښېدل او بلښېدل (٢) د پښتو ژبې د لوی

٢: د پښتو ژبې په کندهارۍ لهجه کې دمګړی هم ويل کيږي.

کندهار په لهجه کښي د ځلېدو معنا ورکوي.داسي محسوسیږي چي د سانسکریټ د (क्ष=kṣ=کښ) مرکب بږغ په پښتو ژبه کښي هم سته. لکه : کښل، کښ(خط، لیکه)، کښیناستل او نورو دا چي د پښتو فونیمونه جواب عربي ټرانسکریپشن نه سي کولای ځکه نو دا مرکب فونیم د پامه غورځېدلی دی. دې ته ورته دوه – درې نور فونیمونه هم په اوستا او سانسکریټ کښي سته چي نمونې یې موږ په پښتو ژبه کښي هم لرو( زما په هغه مقاله کښي په پېښور-باړه ګلی سمینار کښي اورول سوې تر چاپ وروسته لوستلای سی). کښې (لاندي)،

متلونه: چي بادیې وي د پاسه باران یې سمدلاسه-چي باد یې وي دکښې وریځې ځغلي لکه بزې، کښېوتل، کښېکښل او نور...

### (ښ) په چینایي ژبه کښي

په چینایي ژبه کښي هم د (ښ) فونیم سته او ما هورې په چین کښي د پنځو کلونو په موده کښي دا فونیم ښه محوس کړی دی او حتی په چینایانو مي په وار وار تلفظ کړی دی لکه: shu 书 ښوو= د کتاب په معنا.

Duoshao qian: 多少钱 :دوښاو چین: په څو دی یعني بیه یې څو ده؟

zaoshang :早上 : ځاوښن ها: سهار په خیر.

yisheng:医生 : ییښنګ: معالجوي ډاکتر.

### ښ په نورستاني ژبه کښي

(ښ = Ṣin) مخنی ژبیز بې بږغه احتکاکي، منقلب کانسوننټ دی. دا فونیم هم د پښتو په څېر د نورستاني ژبي له صامتو فونیمونو څخه دی چي د کلمې په سر او منځ کښي نیم او په پای کښي بشپړ لیکل کیږي.

ښا(ṣᾱ) : په نورستاني ژبه کښي هغه ښاروي ته ویل کیږي چي د دوستۍ یا عذر په ډول د چا کورته وړل کیږي.

ښاښ(ṣᾱṣ): اقرار، اعتراف، د جرم منل.

ښمښ(ṣamaṣ)= ښبښ: شاباس، آفرین

ښښله(ṣaṣlà): نرم، پوست، ملایم

**(ښ) په شُغني ژبه کښي**

په شغني ژبه کښي هم د (ښ) فونیم سته:

ښورښ: اله گوله، اغتشاش، شورش، پښتو کي هم ښورښ

روښت: پرواز، الوتنه

بخښښ چیدای: بخښنه

بخښښ گُنیژ: بخښونکی، بخشایشگر

**(ښ) په سنگلیچي ژبه کښي**

گوښه: شاوخوا، اطراف

خویښان، خیښان: خپلوان

**(ښ) په واخي ژبه کښي**

یارکښ: چاري، امور، کارونه

څه ښت نُم: د ځان سره

کلمه ښه کوز: تنې جوړونکی

ښُه ئیج: میرېزی خور

**(ښ) په اشکاشمي ژبه کښي**

سورخښ: سرکښ، سرکش، سرکښ،غاړه غړونکی

زښِت: زشت، ناوړه

**(ښ) په منجي ژبه کښي**

ویښ: رسۍ، پړی

پوښګکي: د اوبو کوبۍ

## (ښ) په باختري ژبه کښي

د سره کوتل په ډبر لیک کښي له ننه دوه زره کاله پخوا چي په باختري- کوشاني- تخاري ژبه کښل سوی دی یو فونیم په مرکب ګرافیم سره تر سترګوکیږي چي هوري یې بڼه د یوناني لیکدود په تقلید/þX/ = Shkh؟ ده د الوښال په کلمه کښي کار سوی دی چي د نن د معنا سره سم د اروښاد په معنا ده. دا یې د لوی کندهار د (ښ) پرځای کار کړی دی. ښکاره ده چي دا فونیم او ګرافیم په کوشاني ژبه کښي د کندهار د (ښ) په ډول کارېدی یعني یوازي د (خ) بږغ نه و. که چیري (خ) وای نو هغه به یې په یوناني (خ=x) کښلی وای. دې بږغ(ښ) ته یې شین مشدد وایه چي په اوستا کښي هم سته او په سانسکریټ او روسي ژبه کښي هم دې فونیم ته نژدې فونیمونه سته. ځکه نو دا فونیم - بږغ په افغانستان کښي لرغونی شالید لري.

### الف : د(ښ= ȿ) فونیم په پښتو کښې

(ښ) د پښتو الفباء څلورویشتم توری دی چي په عربي او پاړسي کښي نسته. په پېښور، ننګرهار او پکتیا کي په(خ) تلفظ کیږي. (۳) دا فونیم مخنی اوړېدونکی ناوه یي مښتی) اواز دی چې خپله کانسونینټه جوړه یې(ږ) ده په لوی کندهار کښي د (ښ) په وینګ سره معمولاً د ژبې څوکه پورته د وریو ورستۍ یا دتالو خواته چپه کیږي او د ژبې د شا منځنۍ برخه کښته کیږي، د ژبې په قاعده کښي د اوړېدونکې څوکې او ټیټې سوي شا په منځ کښي یو درونډ مښتی اواز چي په نرم تالو کښي مښلي ادا کیږي.(٤) ځینې پښتانه یې د (خ) او(ښ) تر منځ په یوه بږغ سره تلفظوي. دا فونیم د پښتوکلمو په سر، منځ او پای کښي راځي لکه: ښایست، کښل، پوښ. . بایزید روښان او اخوند درویزه هم د(ښ) په اړه څرګندوني کړي دي او هغه یې په همدې اوسني ګرافیم(ښ) جوړ او ښوولی دی .خوشحال خان د خپل ځینځیري لیکدود سره برابر (شء) ته پر سر همزه ورکړله. دامیر شیرعلي خان په وخت کښي د کندهاري وینګ د ښوولو د پاره(ښ) په دې بڼه (ش) ولیکل سو. شاه عبدالله بدخشي د لوی کندهار د(ښ) دپاره د (ش) ګرافیم و کاراوه. خدای بخښلي عبدالصمد خان اخکزي د لیکني لنډیز دپاره(س.) ته لاندي ټکی ورکړ.

---

۳:

٤: پنزل، هربرت، دپښتو ګرامر، مخکنی اثر،۵۰مخ.

## د لیکدود په ټاکلو کښي د (ښ) ارزښت

په ورستي کښي د یادولو وړ ده چي په لیکدود ټاکلو او لیکلو کښي هم باید د (ښ) اصالت وساتل سي د کې پر ځای کښې ولیکل سي لکه چي د پښتو ټولني د ۱۳۲۱ هـ. ش په فیصله کښي منل سوی دی؛ (لوی استاد محمد معصوم هوتک) چي د پښتو ټولني پر فیصلو ارزښتناکه انتقادي څېړنه کړې ده: (په پښتو ټولنه کښي) د " کښې ــ کښ ــ کې، له منځه دغه یوشکل(کښې) غوره سو .... کښې (د دې مادې پرځای په فیصله کي ۱۵ مه ماده راغلې ده. په اصل فیصله کي ویل سوي دي چي” دراخیر کلمه (کښ) باید یک (یای مجهول) افزوده شود و اینچنین (کښې) نگاشته شود. د(کې) خبره په فیصله کي هېڅ سته نه." همداسي د ښنه پر ځای بخښنه ولیکل سي چي اوستا یې ۳۰۰۰ کلن اصالت (بخښا) خوندي کړی دی. دې ته ورته نښه او نخښه هر یو پر خپل ځای وویل او ولیکل سي، لکه: نښه د سمبول symbol په معنا او نخښه د هدف او Target په معنا، سره ګډول یې معنایي semantical ګډوډي پېښوي.

پایله: الف: په هغو کلمو کي چي له آره (ښ) لري لیکل یې باید له پامه و نه غورځول سي. لکه : (کې) اصل یې (کښې) ولیکو. ب: د اوستا او سانسکریټ د (ښ) او (خښ- کښ) بڼغونو تر منځ توپیر په پام کښي ونیول سي. لکه: (کینه = ناسته) اصل یې (کښېنه)، (ښنه) اصل یې (بخښنه) ولیکو.

### سرچیني:


1) رفیع، څېړنوال، حبیب الله، زنځیری، د افغانستان د علومو اکاډمي- کابل، ۱۳۶۱ لمریز، ۱۱۸، ۱۱۹مخونه.

2) پنزل، هربرت، د پښتو ګرامر، ژباړن محمد رحیم الهام، دوهم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹لمریز، ۳۶مخ.

3) پښتو- پښتو تشریحي قاموس،۳-۴ ټوکونه،د افغانستان دعلومو اکاډمي دژبو او ادبیاتو مرکز،دوهم چاپ، دمدیوتیک د ټولیزو رسنیو مرکز، ۱۳۸۳ش

4) مغموم خټک، یارمحمد، دخوشحال فرهنګ، اول جلد، ایډورډز کالج پېښور،۱۹۸۵م

5) تازه، سمیع الله، فرهنگ زبان نورستانی(کلښه الا)جلد ۱، موسسه بین المللی زبانشناسی ثمر، ۲۰۱۷م،صص۱۳۲۹-۱۳۳۱.

6) حبیبي، پوهاند، علامه عبدالحی. زبان دوهزار سال قبل افغانستان یا مادر زبان دری.دوهم چاپ، ۱۳۸۵ش، ۱۴ مخ.

7) رفیع، څېړنوال حبیب الله. ژبساتنه.مومند خپرندویه ټولنه- جلال آباد، ۱۳۹۴ش،۹۲ مخ

8) لوی استاد محمد معصوم هوتک، د پښتو ټولني او باړه ګلۍ فیصلې،لومړۍ برخه، ۲۰۱۶م

9) Avesta language by Dr.Erwad ramiyr parvez karanjia,jun 2005, p 13

10) K.SRINIVASACHARI,P.O.L.LEARN SANSKRIT IN 30 DAYS,2002,P16

11) English-Avesta Dictionary kavasji FELLOW OF THE UNIVERSITY OF BOMBAY,1909